مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندۀ مضمون میباشد، عقیدۀ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

عبدالغفور لېوال
۲۰۲۳/۰۹/۰۱

# د افغانستان په وړاندې

## د ۲۱-۲۰ مې پېړۍ د ترياکو جګړه

ګڼ دوستان به د ترياکو مشهور جنګونه پېژني. ځيني پېغلوټې/ زلميان به يې لومړی ځل نوم اوري. انګريزانو د چين د نيولو او د «ژېړبشامار» په ګونډوکولو لپاره دوه پرلپسي جګړې؛ لومړی په (۱۸۴۰- ۱۸۴۲) اوبیاځلي ( ۱۸۵۶-۱۸۶۰) کلونو کې راپيل کړې، چې د [اپيمو = افيومو] = (ترياکو جګړې) نوميږي.

کيسه داسې وه، چې انګريزانو له چين څخه چای اخيسته، د نولسمې پېړۍ له پيله د انګريزانو او څه نورو اروپايانو ترمنځ چای‌ځښل دومره دود شو، چې د انګريزي ايمپراتورۍ سپين زر يې پرې خلاص کړل، خو خلکو لا هم چای غوښت.

هيندوستان‌مېشتي انګريزي کمپنۍ «ختيز هيند» هڅه وکړه، د سپينوزرو پرځای ترياک، چې تر دې مهاله يې په هيندوستان کې کرکېله ښه زياته دودکړې وه، چين ته واستوي او په بدل کې يې چای راوغواړي. دې چارې ته ښکېلاکي چل او دوکه په کار وه او هغه دا چې په اپيمو(ترياکو) باندې د چينايانو روږدي کول (اعتياد) زيات او چټک کړي.

بس کيسه پيل شوه، ميليونونه چينايان په ترياکو روږدي شول، انګريزانو چې په دې ښکېلاکي توطئه کې ځان بريالی وليد، نو زړور شول او اشتها يې زياته شوه اوس نو يوازې چای نه، بلکې د چای ټوله کرونده (چين) يې غوښت. د ترياکو سوداګرو کمپنيو چين ته مخه کړه او ژېړبشامار يې د اپيمو په لوګيو کې راښکېل کړ.

چينايان د ترياکو په لوخړو نشه وو، خو له دې سره سره د انګرېز په چل پوه شول او راپاڅېدل، لومړنی کار يې دا و، چې د انګريزي کمپنيو راوړي اپيم ونيسي او اور ورواچوي. انګريزانو چې دا غبرګون وليد، د چين په وړاندې يې لښکر ويوست او ورننوتل. په دويمه جګړه کې د انګريز په ننګه فرانسه او امريکا هم ورګډ شول او په دې توګه يې د زرګونه انسانانو ويني وبهولې. د جګړې په پای کې انګريزانو د هانګ‌کانګ ټاپوګان او روسانو منچوري سيمې له چين څخه لاندې کړې. دا جګړې تفصيلي جزيات لري، خو زموږ موخه دلته د انګريز ښکېلاکي اسباب او ابزار پېژندل دي، چې څنګه يې د ولسونو په ضد کاروي. د نړۍ تر ټولو ګنمېشتي او دويمه لويه جغرافيه (چين) يې د اپيمو په لوخړو روږدوله او نيوله.

ښکېلاک د هر ولس او ملت لپاره په همداسې ترياکو پسې ګرځېده، چې ولسونه پرې خوبولي، بېخبره، روسته‌پاتي او ښکېل وساتي.

پاکستاني استخباراتي مدرسو د افغانستان په وړاندې د هماغو ترياکو کار ورکړ، چې انګريز د چين په وړاندې وکارول. «دين په خطر کې دی!» شعار د ښکېلاک داسې شعار و، چې په تېره يوه پېړۍ کې يې پينځه روښانتيايي نهضتونه پرې راوپرځول او په تېرو پينځه لسيزو کې يې څه ناڅه پينځه ميليونه افغانان پرې ووژل، ټپيان، روږدي، ورې يې کړل يا يې له خپله هېواده وشړل. اخر ولس وکتل، چې نه دين په خطر کې و او نه هم چا دين له دغه خطره ژغوره، کيسه ټوله د قدرت پر سر جګړې او د ښکېلاک په ګټه د افغانستان له پښو غورځول وو.

او که نه افغانان هماغسې غوره و معتدل مسلمانان وو او دي، نه يې چا ايمان کم کړ نه زيات.


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکني د ليکنيزې بنې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په خير و لولئ

چیني ملت، چیني روښانفکرو، چیني وطنپالو او چینایي ملتپالو دوښمن وپېژاند او خپلو خلکو ته یي وروښود: انګریز، د تریاکو انګریزي کمپنۍ او تریاک!

چیني ملت په همدې محور سره یولاس شو او د انګریز پوزه یې په خاورو وموښله، په څولسیزو کې یې خپل ملت د تریاکو له اعتیاد څخه وژغوره او دا دی نن د نړۍ دویم یا ان لومړی پیاوړی اقتصاد دی.

افغانان ګڼ دوښمنان لري، خو د ټولو ابزار و وسایل سره ورته دي، پاکستاني استخباراتي مدرسي له ترټولو ګواښمنو ابزارو څخه دي، چې ګڼ افغانان يې په دروغجنو – خرافاتي تریاکو خوبولي کړي دي او وطن يې تر دې بریده رارسولی. ملت ته بویه چې د یویشتمې پېړۍ دا ښکېلاکي تریاک وپېژني، له تکفیر څخه ویره له ځانه وشنډي او د یوه ویښ، روښانه او پیاوړي ملت په توګه د دغو خطرناکو ښکېلاکي ځالو او ابزارو په وړاندې ودرېږي.

موږ باور لرو، چې د ویښتیا و روښانتیا په مټ به بریا ته رسیږو.

## ویښتیا، روښانتیا او بدلون







افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولـئ